
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

**ګڼه: 417**

( 15  میزان – 20  میزان 1402 هـ ش)

# د اسلامي امارت په دوره کې د افغانستان او پاکستان اقتصادي اړیکو ته کتنه



**دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.**

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د اسلامي امارت په دوره کې د افغانستان او پاکستان اقتصادي اړیکو ته کتنه ......................... 3
- سریزه ........................................................................................ 3
- د پاکستان او افغانستان ترمنځ ټرانزیټ ........................................................... 4
- دوه اړخیزه سوداګري ................................................................................ 6
- سیمه ییزه سوداګري ................................................................................ 6
- د دوه اړخیزو اقتصادي اړیکو پر وړاندې خنډونه ................................................. 8
- پایله ........................................................................................ 8
- وړاندیزونه ........................................................................................ 9
- سرچینې ........................................................................................ 9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د اسلامي امارت په دوره کې د افغانستان او پاکستان اقتصادي اړیکو ته کتنه

### سریزه

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اقتصادي اړیکو مسیر له لوړو ژورو ډک دی او تر ډېره د دواړو هېوادونو ترمنځ تجارت او ټرانزیټ د سیاسي اړیکو او بې‌ثباتیو قرباني دی. د دواړو هېوادونو ترمنځ په اقتصادي او سیاسي اړیکو کې لوړې او ژورې په بېلابېلو مرحلو کې بېلابېل عوامل لرلي. په تېرو وختونو کې تر ډېره تحلیل دا و، چې د نورو عواملو ترڅنګ د ډیورنډ کرښې مسئله هم یوه هغه بنسټیزه قضیه ده چې دا اړیکې یې ترینګلې کړې دي.[1]

په تېرو دوو کلونو کې چې په افغانستان کې اسلامي امارت په واک کې دی، که څه هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ ګراف لوړ شوی، خو یو لړ ستونزې هم راټوکېدلې دي چې ممکن عوامل یې د تېر په پرتله متفاوت وي. تازه پاکستان د افغانستان په اړه یو لړ داسې اقتصادي سیاستونه غوره کړي چې په ژوره توګه د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې اغېزمنولی شي او ګمان کېږي چې د دغو اقداماتو منفي اغېزې به پر دواړو اړخونو پرېوځي او په ځینو برخو کې به اوږدمهالې منفي اغېزې ولري.

که له پاکستان سره د اسلامي امارت په دواړو دورو کې سوداګرۍ ته پام وکړو، نو جوتېږي چې د تېرې دورې په پیل کې د پاکستان او افغانستان ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري ۲۵ میلیونه ډالره وه چې د دغې دورې تر پای پورې ۱۷۰ میلیونه ډالرو ته ورسېده. د جمهوریت په لومړۍ لسیزه کې بیا دا کچه دوه نیم میلیارده ډالرو ته ورسېده[2]. په ۲۰۲۱ز. کال کې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د پاکستان او افغانستان ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري بیا زیاته شوې او تر دوه میلیارده ډالرو پورې رسېدلې ده. د جمهوریت له دورې سره د دغه زیاتوالي توپیر په دې کې دی چې هغه مهال د صادراتو او وارداتو ترمنځ توازن موجود نه و، یعنې پاکستان ته صادرات کم او واردات زیات و، خو د اسلامي امارت په اوسنۍ دوره کې له پاکستان سره د صادراتو او وارداتو په برخه کې تقریباً توزان رامنځته شوی دی، یعنې د افغانستان له لوري پاکستان ته د صادراتو کچه زیاته شوې ده چې ستر لامل یې د اسلامي امارت له لوري د کانونو او په ځانګړې ډول د ډبرو سکرو استخراج او پاکستان ته یې صادرول دي.

په بل اړخ کې، د پاکستان او افغانستان ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پراختیا او تنظیم په موخه په ۲۰۱۰ز. کال کې د اپټا[1] تړون د دواړو لوریو ترمنځ لاسلیک شو چې دغه تړون اوس هم نافذ دی او اسلامي امارت د دغې تړون د وجایبو پر وړاندې مسؤل او له امتیازاتو څخه یې ګټه اخیستی شي. همدارنګه د پاکستان او افغانستان

[1] Afghanistan-Pakistan Transit Trade Agreement(APTTA)



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ترمنځ سیمه ییزو سوداګري هم شتون لري چې یعنې د اپټا د تړون پر بنسټ پاکستان کولای شي چې مرکزي اسیا سره د افغانستان له لارې سوداګري وکړي او افغانستان کولای شي د پاکستان له لارې له هند سره سوداګري وکړي او دواړه لوري کولای شي سیمه ییزو پروژو کې هم سره ګډون وکړي چې کاسا ۱۰۰۰ او تاپي یې ښې بېلګې دي.

په ټوله کې د افغانستان او پاکستان اقتصادي اړیکې درې برخې لري: دوه اړخیزه سوداګري، ټرانزیټي سوداګري او سیمه ییزه سوداګري. په دې لنډه تحلیلي مقاله کې پر همدغو دریو برخو بحث وکړو.

### د پاکستان او افغانستان ترمنځ ټرانزیټ

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ټرانزیټ په برخه کې د همکارۍ د پراختیا لپاره د یو تړون د لاسلیک په موخه په ۲۰۰۸ز. کال مذاکرات پیل شول چې بیا په ۲۰۱۰ز. کال کې د اپټا په نوم یو تړون د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ وزیرانو لاسلیک کړ. دغه تړون چې ۵۸ مادې لري د اسلامي امارت د اوسنۍ واکمنۍ پرمهال هم نافذ دی، سره له دې چې د دې تړون د ځینو موادو د تطبیق په برخه کې خنډونه شته، خو په ټوله کې دغه تړون نافذ دی او دواړو لوري پر استناد کولای شي.

د دغه تړون پر بنسټ دواړه هېوادونه کولای شي چې د یو او بل خاورې ته لاسرسی ولري او له هغې د ټرانزیټي سوداګرۍ په موخه ګټه واخلي. د دغه تړون پر بنسټ افغانستان د پاکستان له دریو لویو بندرونو (کراچۍ، ګوادر او قاسم بندرونو) او دوو هېوادونو، یعني چین ته د سوسټ/تاشقرغان له لارې او هند ته د واګه پولې له لارې ټرانزیټي لاسرسی پیداکوي. البته یوه یادونه باید وکړو چې افغانۍ لارې (لوی ګاډي) به پر واګه پوله خالي کېږي او په هندي کانتینرونو او لاریو کې به هند ته انتقالېږي. همدارنګه افغانۍ لارې نشي کولای چې له هغې خوا هندي مالونه راانتقال کړي بلکې له هغې خوا به تش راځي.

پاکستان هم کولای شي چې له ایران سره د افغانستان د اسلام قلعه او زرنج له لارې، له ازبکستان سره د حیرتان بندر له لارې، له تاجکستان سره د شېرخان بندر له لارې، او له ترکمنستان سره د اقینه او تورغونډۍ له لارې وصل شي او ټرانزیټ ترسره کړي.[3]

د دواړو هېوادونو ترمنځ ټرانزیټي سوداګرۍ په مخ کې ځینې خنډونه پراته دي چې دلته یې لنډه یادونه کوو:

**۱- د پاکستان او اسلامي امارت ترمنځ د پولو تړل کېدل:** په ۲۰۲۱ز. کال د اګست په میاشت کې د اسلامي امارت له واکمنۍ وروسته څو وارې د پاکستان او اسلامي امارت ترمنځ په تورخم او یا هم سپین بولدک سرحد کې ستونزې رامنځته شوې دي او دا سرحد د خلکو د تګ او راتګ په ګډون د سوداګرۍ په موخه هم څو وارې تړل شوی دی چې د دواړو لوریو سوداګرو ته یې مالي زیان اړولي دي. د ۲۰۲۳ز. کال د



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

فبروري په میاشت کې د اسلامي امارت له لوري د تورخم دروازه د هر ډول تګ او راتګ او سوداګرۍ لپاره وتړل شوه، دغه دروازه درې ورځې بنده وه او د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګري ورسره په ټپه ولاړه وه او د دواړو هېوادونو ترمنځ په اقتصادي اړیکو یې هم منفي اغیزه وکړه. د پاکستان او افغانستان د ګډې سوداګرۍ او صنعت خونې مشر سید ضیاالحق سرحدي په وینا د تورخم د دروازې تړلو له امله دواړه لوریو ته ٦۰۰۰ تېلرې او لوی ګاډې بند پاتې وو، چې دواړو لوریو ته یې میلیونه ډالر زیان اړولی دی. د اسلامي امارت چارواکو په وینا دروازه یې له دې امله تړلې چې پاکستاني لوري د ټرانزیت او ناروغانو د پرېښودو په برخه کې پر خپلو ژمنو وفا نه کوله.[4] د همدغو سرحدي او سوداګریزو شخړو د حل په موخه د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر بلاول بهټو زرداري د ۲۰۲۳ز. کال د می په میاشت کې په اسلام اباد کې سره وکتل او دواړه لوري دې هوکړې ته ورسېدل چې دوه اړخیزې سوداګرۍ ته به پراختیا ورکوي، د تروریزم په خلاف جګړه کې به همکاري کوي او سرحدي اندېښنې به پای ته رسوي.[5]

**۲- له هند سره د ټرانزیټي سوداګرۍ پر وړاندې خنډونه:** لومړی خنډ خو خپله په اپټا ترون کې دی چې افغاني کانتینرونه او لارۍ واګه پولې نه اخوا نه پرېږدي تر څو هند ته تېرې شي او له هغې خوا به افغانۍ لارې ببرته تشې راځي چې دا افغاني سوداګرو ته لوی زیان دی او دویم خنډ په اوس وخت کې د هند او اسلامي امارت ناسمې اړیکې دي، ځکه هند تراوسه په ډهلي کې افغان سفارت اسلامي امارت ته نه دی سپارلی او په تېرو دوه کالو کې افغان محصلینو، ناروغانو او عادي افغانانو ته د هر ډول ویزو ورکړه بنده کړې ده او طبعي خبره ده چې دغه عمل د پاکستان له لارې د هند سره پر ټرانزیټي سوداګرۍ منفي اغیزه کوي.

**۳- په کراچۍ او ګوادر بندرونو کې د افغاني کانتینرونو ځنډول او د ځنډ ناعادلانه فیس:** افغان سوداګر باید په ۱۲ ورځو کې په کراچۍ او ګوادر بندرونو کې د ټکس او نور کاغذي کارونه خلاص کړي او خپل مال ترلاسه کړي، که له ۱۲ ورځو دا کار وروستي شي، نو پاکستان حکومت افغاني سوداګر څخه هر ورځ ٦۰ ډالر او وروسته ۸۰ ډالر اضافه اخلي او د هرو شلو ورځو په تېرېدو سره د جریمې پیسې هم زیاتېږي. پاکستان د دغو پیسو د ترلاسه کولو په موخه ځینې خنډونه جوړوي تر څو افغاني کانتینرې وځنډېږي تر څو دوي ډېر پیسې لاسته راوړي چې دا خپل د دواړو هېوادونو د ټرانزیټ په مخ کې خنډ دی.

**د افغانستان پر ترانزیټي سوداګرۍ تازه بندیزونه:** اوسمهال تر ټولو جدي مسئله له افغانستان سره د سوداګرۍ او ټرانزیټي سوداګرۍ په برخه کې د پاکستان ځینې تازه سیاستونه چې ګمان کېږي دوه اړخیزې اقتصادي اړیکې به په شدت سره زیانمنې کړي. د بېلګې په توګه د پاکستان د سوداګرۍ وزارت تازه افغانستان ته د ۲۱۲ قلمه توکو صادرات ممنوع کړي، چې پکې ۱۷ ډوله جامې، بېلابېل ډوله پلاستیک، نقلیه وسایل، چای، آرایشي توکي او لسګونه روغتیایي لوازم پکې راځي. د دې ترڅنګ د تازه او وچې مېوې، کورنیو وسایلو



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

لکه یخچال او داسې نورو توکو صادرات هم افغانستان ته ممنوع شوي دي. تر دې دوه ورځې وړاندې پاکستان د افغانستان پر څو وارداتي توکو هم ۱۰ سلنه ګمرکي تعرفه وضع کړې وه.

### دوه اړخيزه سوداګري

په ټوله کې تېرو دوو کلونو ښودلې چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ دوه اړخيزه سوداګري مخ پر لوړېدو ده. په ۲۰۲۱ز. کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ ټوله دوه اړخيزه سوداګري یو میلیارد او شپږ سوه اته شپېته میلیونه (۱٦٦۸,۴۴) وه چې په ۲۰۲۲ز. کال کې دا کچه یو میلیارد او اته سوه ٦١ میلیونه (۱۸٦١,٦۴) ته لوړ شوه، یعنې د ۲۰۲۱ز. کال په پرتله په ۲۰۲۲ز. کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ ۱۲ سلنه دوه اړخيزه سوداګري لوړه شوې ده. په ۲۰۲۱ز. کال کې افغانستان له پاکستان څخه د ۸٦۷,۰۳ ملیونه ډالر په ارزښت توکي وارد کړي چې په ۲۰۲۲ز. کال کې دا کچه ۹٦۸,۴۳ میلیونه ډالرو ته لوړه شوه. همدارنګه په ۲۰۲۱ز. کال کې افغانستان له لوري پاکستان ته د ۸۰۱ میلیون ډالرو په ارزښت توکي صادر شوي چې په ۲۰۲۲ز. کال کې دغه کچه ۸۹۳ میلیونه ډالرو ته لوړه شوه.[6]

د پاکستان له لوري افغانستان ته طبي مواد، وريجې، نباتي غوړي، پلاستيک، غذايي مواد، سيمنټ، ژاولې، المونيم، تازه میوه او سبزیجات په لوړه کچه صادرېږي او د افغانستان له لوري پاکستان ته ډېرو سکاره، انګور، ځمکنی توت، منې او نور تازه میوه، پنبه، رومیان، پیاز، اوسپنه، بادرنګ، وچه میوه او نورو توکي صادرېږي.[7]

که د وروستيو سیاستونو په برخه کې بیاکتنه وشي، نو تمه ده چې د ۲۰۲۳ز. کال تر پای پورې د دوه اړخيزې سوداګرۍ کچه تر دوه میلیاردو ډالرو پورې ورسېږي ځکه چې د معلوماتو پر بنسټ په ۲۰۲۳ز. کال په هره میاشت کې په دوه اړخيزه سوداګرۍ د پام وړ زیاتوالی راغي، د بېلګې په ډول د ۲۰۲۳ز. کال په جولای میاشت کې د دواړو لوریو ترمنځ دوه اړخيزه سوداګري ۹۹,۹۸ میلیونه ډالره و، خو د همدغه کال په اګست میاشت کې دوه اړخيزه سوداګري ۱۳۵,۳۰ میلیونه ډالرو ته لوړه شوه. په اګست میاشت کې افغانستان له پاکستان څخه د ٧٦,۴۰ میلیونه ډالرو په کچه توکي وارد کړي او د ۵۸,۹۰ میلیونه ډالرو په کچه یې پاکستان ته توکي صادر کړي دي.[8] که هره میاشت په دوه اړخيزه سوداګرۍ کې په دې کچه لوړوالی راشي، نو تمه ده چې دوه اړخيزه سوداګري به تر دوه میلیارده ډالرو پورې ورسېږي.

### سیمه ییزه سوداګري

د پاکستان او اسلامي امارت په اقتصادي اړیکو کې بله مهمه موضوع د پاکستان او چین اقتصادي دهلیز یا CPEC (China-Pakistan Economic Corridor) دی. چین غواړي چې افغانستان هم د دې دهلیز برخه کړي او د همدې موضوع لپاره یې څو ځلې له پاکستاني لوریو سره خبرې اترې هم کړي دي. چین غواړي



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

چې په افغانستان کې د پاکستان د اقتصادي او ډیپلوماتیکي نفوذ څخه ملاتړ وکړي او له دې لارې چین غواړي چې د پاکستان سره دوه اړخیز اقتصادي دهلیز (CPEC) په څو اړخیز اقتصادي دهلیز CAICAP (China, Afghanistan, Iran, Central Asia and Pakistan) باندې بدل کړي.[9] د چین له دې پلان څخه په ښکاره څرګندیږي چې دوی غواړي افغانستان د یو کمربند یوې لارې پروژې برخه کړي او سیپیک د دې پروژې برخه ده، نو که افغانستان د سیپیک برخه کېږي دا په دې معنی چې د افغانستان او پاکستان اقتصادي اړیکې به هم له دې لارې قوي شي او د دوی ترمنځ به سوداګري لا پیاوړې شي.

د ۲۰۲۳ز. کال په می میاشت کې کې د چین د بهرنیو چارو وزیر قېن ګېنګ پاکستان ته سفر وکړ او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر بلاول بهټو زرداري، جمهور رئیس عارف علوي او د پوځ مشر جنرال اصف منیر سره یې وکتل او د سیپیک په اړه ورسره تفصیلي خبرې وکړې چې په دې خبرو کې د چین د بهرنیو چارو وزیر له پاکستان لوریو څخه د امنیت ټینګولو غوښتنه وکړه ځکه پرته له امنیت څخه د سیپیک او دې ورته پروژو تطبیقول ناشوني دي، همدارنګه د چین د بهرنیو چارو وزیر له پاکستاني لوریو څخه د هغو چینایانو د امنیت خوندي کولو غوښتنه هم وکړه چې په پاکستان کې په چینایي شرکتونو کې کار کوي او د پاکستان له اقتصادي رغونې سره همکاري کوي.[10]

همدارنګه د سیمه ییزې سوداګرۍ په برخه که د مرکزي اسیا سره ځینې داسې پروژې لاسلیک شوي دي چې پاکستان او افغانستان یې دواړه برخه دي او دواړه لوري ترې ګټه اخلي چې دلته یې ترې یادونه کوو:

**۱- تاپي پروژه:** دغه پروژه د ۲۰۱۵ز. کال د ډسمبر میاشتې پر ۱۳مه نېټه د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند ترمنځ لاسلیک شوه. د دې پروژې له لارې به ۳۳ میلیارده کیوبیک متره ګاز هر کال غړو هېوادونو ته انتقالېږي. د دې پروژې پر بنسټ به ګاز د ترکمنستان له دولت اباد څخه پیلېږي او د ۱۸۰۰ کیلو متره سړک پرمټ به د افغانستان د هرات - کندهار له لارې د پاکستان کویټې او ملتان ته او له هغه ځایه د هند فېضلکه (Fazilka) ته رسېږي. پلان دا و چې د دې پروژې کارونه باید په ۲۰۱۰ز. کال کې پیل شي او په ۲۰۱۵ز. کال کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي، خو تر ننه دا کار نه دی شوی.[11]

**۲- کاسا-۱۰۰۰:** د بریښنا دغه پروژه په ۲۰۱٦ز. کال کې د قرغېزستان، تاجکستان، افغانستان او پاکستان ترمنځ لاسلیک شوه. د دې پروژې ټوله بودیجه ۱,۲ میلیارده ډالر اټکل شوې او تمه وه چې د ۲۰۱۹ز. کال تر پای د بریښنا انتقال پیل شي. د دې پروژې له لارې به له قرغیزستان څخه بریښنا تاجکستان، له تاجکستان څخه افغانستان او د افغانستان له لارې به د پاکستان پېښور ته انتقالیږي. د دې پروژې له لارې به افغانستان ۳۰۰ میګا واټه او پاکستان ۱۰۰۰ میګاواټه بریښنا ترلاسه کړي، خو کارونه یې تر دې دمه هم بشپړ شوي نه دي.[12]



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**۳- ټاپ- ۵۰۰:** د ۲۰۱۵ز. کال په ډسمبر میاشت کې ترکمنستان، افغانستان او پاکستان د برېښنا دغه پروژه لاسلیک کړه، چې له دې لارې به ۲۰۰۰ میګا واټه برېښنا له ترکمنستان څخه افغانستان او له افغانستان څخه پاکستان ته انتقال شي. پر دې پروژه ۱۵۰ میلیونه ډالره لګښت راځي چې د اسیا پراختیایي بانک یې د پور په ډول د ورکړې ژمنه کړې ده. تمه وه چې د ۲۰۱۸ز. کال په لومړۍ ربعه کې د پروژې کار پیل شي، خو لا هم نیمګړې پاتې ده.[13]

### د دوه اړخیزو اقتصادي اړیکو پروړاندې خنډونه

**۱- د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندل:** د ټرانزیټي، سیمه ییزې او دوه اړخیزې سوداګرۍ په مخ کې د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندل یو لوی خنډ دی چې دغه سوداګري لا پراختیا ته نه پرېږدي.

**۲- د امریکا متحده او ایالاتو او د هغوی د متحدینو له لوري پر اسلامي امارت اقتصادي بندیزونه:** د هر ډول سوداګرۍ په مخ کې اقتصادي بندیزونه یو لوی خنډ دی. د اسلامي امارت تر واکمنۍ لاندې په افغانستان کې ځینې بانکي فعالیتونه تر بندیزونو لاندې دي او سوداګر نشي کولای چې د دې بندیزونو له امله په خلاص مټ سوداګري وکړي.

**۳- د سیاسي اړیکو خرابوالی:** په دې وروستیو کې په پاکستان کې امنیتي پېښې زیاتې شوې دي چې د اکثرو پړه تحریک طالبان پاکستان په غاړه اخیستې ده. د رسمي شمېرو له مخې یوازې په ۲۰۲۳ز. کال کې په خیبر پختونخواه کې ۳۰۰ بریدونه شوي چې اکثره یې تحریک طالبان پاکستان په غاړه اخیستې دي. وروستۍ پېښه تېره میاشت په باجوړ کې وشوه، چې له امله یې له ۵۴ څخه زیات کسان ووژل شول. د پاکستان لوړو پوړو چارواکو د دې پېښې له کبله اسلامي امارت ته د ګوتې ګوته ونیوله. د پاکستان حکومت او په ځانګړې ډول د پوځ مشر جنرال عاصم منیر ادعا وکړه چې په دې پېښه کې افغاني تابعیت لرونکو لاس درلود او دوی له افغانستان څخه راغلي وو.[14] اسلامي امارت دغه تورونه رد کړل او د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د ټویټر پر پاڼه ولیکل: د وروستي امنیتي پېښې له امله پاکستان د دې پرځای چې خپل امنیت ټېنګ کړي یو ځل بیا یې افغانستان تورن کړ. اسلامي امارت تاکید کوي چې د دوي د دې ډول پېښو حمایت نه کوي بلکې غندي یې، خو دا د اسلامي امارت مسؤلیت نه دی چې په پاکستان کې د حملو مخنیوی وکړي، بلکې پاکستان باید خپل امنیت خپله ټینګ کړي.

د پاکستان او اسلامي امارت ترمنځ د سیاسي اړیکو خرابوالی د دواړو هېوادونو پر اقتصادي اړیکو منفي اغیزه لري او د دغو اړیکو د پراخوالي په مخ کې یو خنډ دی.

### پایله

د اسلامي امارت او پاکستان ترمنځ اقتصادي اړيکې په درېو برخو کې موجودې دي چې يو په ټرانزيټ برخه کې دي بل په دوه اړخيزه سوداګرۍ برخه کې او بل سيمه ييزه سوداګرۍ برخه کې. د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخيزه سوداګرۍ مخ پر لوړېدو ده او ښه خبره په کې دا ده چې د جمهوريت په پرتله په امارت کې د صادراتو او واردات بېلانس د برابرېدو پر مخ روان دی او ستر لامل يې د افغانستان له لوري د کانونو استخراج او صادرول دي. په سيمه‌ييزه سوداګرۍ کې هم فرصتونه موجود دي او اسلامي امارت کولای شي چې د جمهوريت د وخت لاسليک شوي پروژې تعقيب او د افغانستان د اقتصادي پياوړتيا لپاره ترې ګټه واخلي او ټرانزيټ په برخه کې هم د اپټا تړون شته چې د ټرانزيټي سوداګرۍ په برخه کې دواړوه لوريو ته ښه فرصت دی.

له دې ټولو سره سره، د دواړو هېوادونو ترمنځ د سياسي اړيکو ترينګلتيا تل پر اقتصادي راکړه ورکړه منفي سيورى غوړولی، چې له افغانستان سره په اقتصادي اړيکو کې د پاکستان وروستي سختګيرانه سياستونه هم له همدې ځايه سرچينه اخلي. له همدې کبله داسې برېښي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سياسي اړيکو له رغېدو پرته د اقتصادي اړيکو غوړېدا هم ستونزمنه ده.

**وړانديزونه**

۱- له پاکستان سره دې د افغانستان د يو مهم ګاونډي په توګه سياسي اړيکې ورغول شي ترڅو د دواړو لوريو ترمنځ اقتصادي اړيکې پياوړې شي ځکه سياسي اړيکو خرابوالي پر اقتصادي اړيکو منفي اغيزه کړې ده.

۲- د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانزيټ په برخه کې د اپټا تړون يو ښه فرصت دی او دواړه لوري دې هڅه وکړي چې د دې تړون پر وړاندې پراته خنډونه له منځه يوسي او د هر اړخيز تطبيق لپاره يې هڅه وکړي.

۳- اسلامي امارت بايد له پاکستان سره په دواړو سياسي او اقتصادي اړخونو کې جدي مذاکرات وکړي، ترڅو شته سوء تفاهمات له منځه ولاړ شي او د مذاکراتو د منفي پايلې په صورت کې دې پر بديلو لارو چارو جدي غور وکړي.

۴- اسلامي امارت دې لاسليک شوې سيمه ييزې پروژې د تطبيق لپاره هر اړخيزې هڅې پيل کړي ځکه اوس په ټول افغانستان کې امن دی او دې پروژو تطبيق لپاره تر بل هر وخت ښه فرصت برابر دی.

**سرچينې**

[1] Larry Hanauer and Peter Chalk, India's and Pakistan's Strategies in Afghanistan: Implications for the United States and the Region, RAND

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Corporation, 2012, P. 27. Access Date: 28/DEC/2020, Available at: https://www.jstor.org/stable/10.7249/j.ctt1q6105.10

[2] Shoaib Ahmad Rahim. Afghanistan's Dependence of Pakistan: Trade, Transit and the cost of Being Landlocked, Kardan Journal of Economic and Management science, Access link: https://kardan.edu.af/data/public/files/KJEMS-4th-3.pdf

[3] Mohammad Zubair Khan. Pakistan-Afghanistan Trade: Political Economy Analysis, The Asia Foundation, Access link: https://asiafoundation.org/wp-content/uploads/2016/06/Political_Economy_Analysis_Dr_Khan.pdf

[4] Thousands of trucks stuck at Afghan-Pakistan border crossing, Al-Arabiya News, 21 February ,2023, Access link: https://english.alarabiya.net/News/world/2023/02/21/Thousands-of-trucks-stuck-at-Afghan-Pakistan-border-crossing

[5] Pakistan, Afghanistan agree to boost trade, lower border tensions, AlJAZEERA, 8 May 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/5/8/pakistan-afghanistan-agree-to-boost-trade-lower-border-tensions

[6] https://www.nation.com.pk/17-Jul-2023/pak-afghanistan-bilateral-trade-grown-by-12pc

[7] Shahzad Paracha, Pakistan, Afghanistan bilateral trade increases 66 percent since Taliban rule, October 12, 2022, Access link: https://www.pakistantoday.com.pk/2022/10/12/pakistan-afghanistan-bilateral-trade-increases-66-percent-since-taliban-rule/#:~:text=Pakistan%2C%20Afghanistan%20bilateral%20trade%20increases%2066%20percent%20since,thus%20increasing%2066.60%25%20in%20trade%20between%20two%20countries.

[8] https://www.pakistantoday.com.pk/2023/09/11/pakistan-afghanistan-bilateral-trade-increase-35-to-135-30-million-in-august-2023/

[9] Ashraf Jehangir Qazi, Pakistan's Afghanistan policy, DAWAN News, August 17, 2023, Access link: https://www.dawn.com/news/1770589/pakistans-afghanistan-policy

[10] Munir Ahmed, Pakistan, Afghan Taliban Agree to Boost Trade, Lower Tension, THE DIPLOMAT, May 08, 2023, Access link: https://thediplomat.com/2023/05/pakistan-afghan-taliban-agree-to-boost-trade-lower-tension/

[11] (Amina khan, AFGHANISTAN AND REGIONAL CONNECTIVITY, INSTITUTE OF STRATEGIC STUDIES ISLAMABAD, Aug 6, 2019, P. 3.)

[12] (M. Azim Wardak, Infrastructure Connectivity in Afghanistan, Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan, 2017, P. 12.)

[13] (…), Work on TAP-500 to start in Q1 2018, Economist Intelligence, 2017, Acess link: Work on TAP-500 to start in Q1 2018 (eiu.com)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

14 Abid Hussain, Taliban’s ties with Pakistan fraying amid mounting security concerns, ALJAZEERA, 17 Aug 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/8/17/talibans-ties-with-pakistan-fraying-amid-mounting-security-concerns

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړيکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000